مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۴/۰۱/۰۲

کالیزه

نن سبا په ښارونو کې ځینې خلك د خپلو ماشومانو کالیزې لمانځي. په کومه ورځ چې یې اولاد زېږېدلی وي، په هماغه ورځ سره مېله کوي. د کالیزې مخصوص کیك اخلي، د ماشوم د عمر د کلونو په تعداد شمعې بلوي، ماشوم بیا شمعې پو کوي او مړې کوي یې مانا دا چې ده د خپل عمر همدومره کلونه تېر کړي دي. بیا چاړه راخلي، کیك غوڅوي. دې سره ټوله کورنۍ چکچکې کوي او مبارکي ورته وایي. په غربي ملکونو کې خو دې ورځې ته مخصوصه سندره هم شته چې ارام موزیك ورسره غږول کېږي او په محفل کې حاضر خلك هم له سندرغاړي سره یو ځای بولي:

«مبارك دي كاليزه، مبارك دي كاليزه»

دغه رواج پخوا په موږ کې نه و، د ماشومانو د کالیزې لمانځنه مو اوس له بهرنیانو زده کړې. پخوا په موږ کې باسواده کسان لږ وو، نو د خپلو اولادونو د زېږېدو نېټه اکثرو خلکو ته نه وه معلومه. البته خارجیان د لویانو کالیزې هم لمانځي، دوی ان د ژوند تر وروستي کاله پورې هم په خپله کالیزه کې مېلمستیا جوړوي او خپل نژدې دوستان رابولي. هلته څو پورې چې سړی ماشوم یا زلمی وي؛ نو مور و پلار یې ورته کالیزې لمانځي. بیا چې پخپله لوی او د کار و بار ځښتن شو، پخپله یې لمانځي چې بودا شي بیا یې اولادونه ورته محفل جوړوي او کالیزې یې لمانځي. خارجیان پوهېږي چې په دې دنیا کې یوازې یو وار ژوند کوو؛ نو باید خوند ورنه واخلو. اروا‌پوهان وایي، خوشحالي او خندا زموږ پر روغتیا ښه اثر لري. څوك چې خوشحاله ژوند لري تر غمجنو کسانو د زړه او فشار په ناروغیو لږ اخته کېږي. د خوشحالو کسانو اعصاب هم ښه کار کوي او رنګ یې تل غوړېدلی وي؛ نو د نورو ملکونو خلك ځان ته داسې رواجونه او دودونه جوړوي چې خندا او خوشحالۍ ورسره ملګري وي.

ځینې خلك وایي چې د کالیزو لمانځل د نورو رواج دی، موږ به یې ولې خپلوو؟ خبره دا ده چې هر ښه شی، ښه وي که نورو جوړ کړی وي، که موږ پخپله. الوتکه هم غربیانو جوړه کړې؛ خو نن زموږ حاجیان هم په کې سپرېږي او مکې معظمې ته ځي. کاغذ هم غربیانو جوړ کړی او مطبعه هم هغوی سازه کړې ده؛ خو نن موږ هم په مطبعو کې په کاغذ باندې قران چاپوو. که یو رواج ښه او ګټور وي، که د هر چا وي، باید چې خپل یې کړو او که په خپلو رواجونو کې مو یو غلط او مضر رواج وي، باید چې پرې یې ږدو. موږ هسې هم په ژوند کې د خندا او خوشحالیو شیبې کمې او د غم او خپګان ډېرې لرو؛ نو باید د خپل صحت لپاره، داسې رواجونه زیات کړو چې خندا ورپورې تړلي وي. ځکه چې صحت یو نعمت دی او د نعمت ساتنه فرض.

که د خپل ماشوم کالیزه ولمانځو، نو هغه پوهېږي چې راباندې ګران دی. هغه پوهېږي چې موږ یې قدر کوو. ماشوم ته دغه احساس پیدا کېږي چې «زما وجود د مور و پلار لپاره مهم دی» موږ چې په دې رنګ له ماشوم سره مینه وکړو، هغه هم دا زده کوي چې له نورو سره مینه وکړي. کله چې وګړي له یو بل سره مینه وکړي، ټولنه به نېکمرغه شي، تاوتریخوالی او جنګ جګړې به کمې شي. ماشومان ځان تر لویانو کمزوري او حقیر ګڼي. دوی وینې چې هم په بدني او هم په ذهني لحاظ تر لویانو کمزوري دي؛ نو د حقارت احساس کوي. د حقارت دغه احساس یوازې په مینه له منځه ځي. کله چې له ماشوم سره مینه کوو، نور نو کشر او مشر په منځ کې نه وي، د مینې دواړو خواو ته برابر کسان وي. د ماشوم د کالیزې لمانځل راته داسې موقع په لاس راکوي چې هغه ته خپله مینه وښیيو.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مور کولای شو د خپلو اولادونو کالیزه په خپله طریقه ولمانځو. که کیك نه شو اخیستلی، که مېلمانه نه شو رابللي؛ نو د خپلې کورنۍ په منځ کې خو کوچنۍ مېله جوړولای شو. مهمه دا ده چې د خپل هر اولاد د زېږېدو نېټه په کتابچه کې ولیکو، هر کال په همماغه ورځ کورنۍ مېله جوړه کړو او هغه ته د کالیزې مبارکي ووایو. په نورو ملکونو کې کورنۍ او ملګري سړي ته د کالیزې په ورځ سوغات ورکوي. مور که بې وزلي هم یو بیا هم کولای شو ماشوم ته مو یو کوچنۍ سوغات واخلو. کالي خو هسې هم په کال کې یو وار دوه واري ورته جوړوو؛ نو بهتره به دا وي چې همدغه نوي جامې ورته د کالیزې په ورځ جوړې کړو. که دا نه شو کولای؛ نو د لوبو یو سامان، یو کتاب یا کتابچه خو ورته اخیستلی شو. که بیخي سوغات نه شو اخیستلی؛ نو یوازې د کالیزې د ورځې یادونه هم کافي ده چې «زویه یا لورې! ته پنځه کاله یا شپږ کاله مخکې په همدې ورځ پیدا شوی وې، نن دې پنځم یا شپږم کال پوره شو. مبارك دې وي، خدای دې د سلو کالو کړي.»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ